مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالهادي هادي
۲۰۲۳/۰۸/۰۶

# فطرت

خدایه ته راولې یو دا رنګه اختر په ځمکه
چې پکې ورور له وروره نه وي مرور په ځمکه

موږ شاعران، موږ لیوني دا ببر سري خلک
په ترنم کوو د عشق د فصل کر په ځمکه

زموږ بیوسو دغه خوب نوره رښتیا کړې ربه!
چې نه وي جنګ، چې نه وي مرګ او نه وي شر په ځمکه

ای د کابل په مازیګر پسې مې سترګې ووځي
چې راته ناست وي ښو ملګري په ټاډر په ځمکه

دا مو فطرت دی دا مو لویه مجبوري وګڼئ
له موږ نه مه غواړئ چې کیږدو درته سر په ځمکه

چې بس ښکلا وي او د مستې خندا شور وي پکې
خدایه آباد لرې هر ګام کې یو ګودر په ځمکه

هادي آرام یو موږ د چا لار کې اغزي نه شیندو
نه خو دا وس غواړو چې چا ته شو خطر په ځمکه

عبدالهادي هادي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ